# دجعلی مهاجرت په اړه خبرتیا!

**آیا دمهاجرت دداسی وړاندیزونو ترلاسه کول؟**

**تضمین شوی کار او ویزه په کاناډا کی!**

دکارلپاره تضمین لیک! وړیا تحصیلی بورسونه! په کاناډا کی دکمی او یا دنه تجربی په لرلو سره لوړی تنخواګانی! وړیا دالوتکی ټکټونه او داوسیدو ځای! تضمین شوی وظیفه! ځانګړی پروګرامونه! دیوهوټل دکارکوونکی په حیث په میاشت کی ۴۰۰۰ امریکایی ډالر ترلاسه کړی!

ددهوکی قربانی نشی. که وړاندیز ستاسو په نظر ډیر ښه او صحیح وو، کیدای شی چی کیدونکی به وی.

باید پدی پوه شی چی:

- حتمی نده چی دمهاجرت د ویزی دترلاسه کولو او یا دکاناډا دتابعیت دلاسه کولو لپاره استازی وګماری.
- دمهاجرت استازی دکاناډا ددولت دمامورینو سره ځانګړی اړیکی نلری او نشی کولای ستاسو ویزه تضمین کړی.
- یوازی د کاناډا دسفارت، دعالی کمیشنری او کونسلونو هغه مامورین چی جواز لری ستاسو دویزی په تایید او نه تایید کی تصمیم نیولای شی.
- دجعلی سندونو په کارولو سره دهوکه نشی ځکه چی پدی سره به ستاسو وړاندیز رد شی.
- دانترنتی دهوکه بازانو او غلطو ویب پاڼو ښخه خبر اوسی. دکاناډا دمهاجرت او تابعیت رسمی ویب پاڼه www.cic.gc.ca ده تاسو کولای شی چی لدی ویب پاڼی څخه دهر ډول ویزی په اړه وړیا وړاندیز لیکونه او معلومات ترلاسه کړی.
- دنړی په هرګوټ کی دپروسی دترسره کولو لپاره یوډول فیس ټاکل شوی. فیس په مروجه پیسو ترسره کیږی چی د کاناډایی ډالرو دټاکل شوی اندازی سره سمون خوری او داسعارو په رسمی تبادلی سره بدلون مومی.
- دکاناډا دویزی رسمی دفترونه هیڅکله تاسو ښخه نه پوښتنی چی پیسی دبانک شخصی اکونټونو ته ولیږدوی او یا ځانګړی شخصی کمپنی پواسیطه یی ولیږدوی.
- که پدی اړه نوری پوښتنی لری، دکاناډا دمهاجرت او تابعیت ددفتر (CIC) او یا ستاسو په سیمه کی دکاناډا دویزی مسول ګمارل شوی دفتر سره اړیکه ونیسی.

دلا زیاتو معلوماتو لپاره ترڅو وپوهیږی چی څوک ډیر مناسب دی ترڅو په رسمی ډول ستاسو استازی واوسی او د مهاجرت دنماینده په څیر یی وګماری دکاناډا دمهاجرت او تابعیت (CIC) په ویب پاڼه کی یی ترلاسه کړی.

(http://www.cic.gc.ca/english/information/representative/index.asp).